## سپرلی بیا پر وطن راغی...

دا دی یو ځل بیا د نوي لمریز هجري کال د پیل په درشل کې یو او د سپرلي د ښکلي موسم د راتګ ورځې دي... د ژوندون کتاب بله پاڼه اړوي او د سپرلي موسم د ښکلې هوا او نویو هیلو له ډکې ځولۍ سره را روان دی. سمه او غرونه د ژمي له درانده خوب ورروسته، یو ځل بیا شنې جامې په تن راپاڅیدل. د ونو شنې پاڼې، د رنګارنګ ګلونو ځلا، دمرغانو خوږې نغمې، د سپرلي نرم نسیم... دا هر څه د انسان زړه ته خوښي راوړي. د ژمي سستي او ساړه کله باروي او انسانان، حیوانات، مرغان ... ټول د لوی خدای په فضل د هڅو او کوښښونو نوي پړاو ته ننوځي.

### د سپرلي راتګ ته خوښي، فطري احساس دی

د سپرلي له پیل سره د ژوند نوې غوټۍ غوړیږي او طراوت او تازګي په هر څه کې له ورایه ځلیږي، په زړونو کې د ښیګڼې، خیر او برکت څخه د ډک نوي کال لپاره اسرې راولاړیږي او د ناامیدۍ کنګلونه د هیلو د تاوده لمر شغلو ته ویلې کیږي. خلک په شوق او مینې سره نوي کال ته ښه راغلاست وایي، د سپرلي د خوښیو هرکلی کوي او له غرونو او رغونو، بوټو او کروندو، دښتو او باغونو څخه د مهربان خدای د پریمانه نعمتونو هیله من دي. د خوښۍ په داسې شیبو کې، په زړونو کې د خوښۍ احساس او د هغه تعبیر، انساني، بدیهي او طبیعي کار دی او هیچا ته نه ښایي چې یوازې لدې امله د خدای پر بندګانو د ژوند پراخ ډګر تنګ کړي چې د سپرلي او نوي کال راتګ ته طبیعي خوښي څرګندوي.

### د خوښیو په ښکارندویۍ کې شرعي ارزښتونو ته پاملرنه

تر کومه چې خبره د نوي کال او سپرلي په راتګ سره په طبیعي او انساني خوښیو پورې اړه لري – چې له شرعي پولو وانه وړي– نو په دې کې څه ستونزه نه ښکاري. ځکه دا د مباحاتو په ساحه او د خوښۍ د نورو مناسبتونو تر حکم لاندې راځي. خو هغه څه چې باید ورته متوجه اوسو دا چې د خوښیو دا احساس باید په یوه انساني او طبیعي چوکاټ کې پاتې شي او د هغه په اظهار او تعبیرکې د شریعت حدود تر پښو لاندې نه کړای شي او نه هم لوړ انساني او اخلاقي ارزښتونه د بې واکه عواطفو قرباني شي، ځکه اسلامي شریعت د کامل قانون او نظام په توګه د ژوند د ټولو حالاتو – غم، ښادي، ښه او بد...– لپاره ټاکلي احکام او لارې چارې لري، چې مسلمان تل د هغې په ساتلو مکلف دی. په بله وینا، باید پداسې مواردو کې هیڅکله د الله له حدودو څخه تیری ونه شي. قرآن کریم فرمایي: "وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ" یعني چا



چې د الله پر حدودو تیری وکړ نو په یقینا پر ځان یې ظلم وکړ. (الطلاق۱)

په بل عبارت ویلای شو چې د سپرلي لپاره د خوښۍ احساس او د هغه څرګندول باید د طبیعي انساني احساس په محدوده کې وساتل شي او په هیڅ ډول باید دیني بڼه غوره نه کړي او نه هم په خرافاتي آندونو او کړنو بدل شي او نه هم پکې له شرعي پولو او احکامو تیری وشي.

### د نوروز د لمانځلو په هکله...

د دې مسئلې د جواز او عدم جواز په هکله د نصوصو، تفصیلاتو او جزئیاتو راوړل د دې وړې جزوې له توانه پورته دي خو بیا هم د موضوع د وضاحت او ارزښت په خاطر اړینه ده چې څه تاریخي حقایق او دیني اصول او ثوابت د هغو ځینو کړنو په هکله چې پدې ورځ سر ته رسیږي، له احساساتو او انفعالاتو ځخه پرته څرګند شي:

له کره او بې طرفه کتنې وروسته انسان دې پایلې ته رسیږي چې:

- د نوروز لمانځل فرهنګي مسئله ده چې پر دود او رواج پورې اړه لري او له زرګونو کلونو راهیسې لمانځل کیږي.
- د نوروز د لمانځلو ریښې د زردشتي دین مراسمو ته ورګرځي چې په سندرو کې یې هم یادونه ترې شوې او ځانګړي آداب او مراسم لري.
- ډول ډول عقاید او باورونه د نوروز له لمانځنې سره ګډ شوي او په ځینو مواردو کې خو یې آن دیني بڼه غوره کړې ده.
- د نوروز د لمانځلو معمول دود او رواج د اسلام په مبارک دین کې هیڅ اساس او بنسټ نه لري او د هغې د توجیه لپاره په قرآن کریم، احادیثو او د دین د علماوو او مشرانو په اقوالو کې هیڅ اصل نشته.
- د نوروز په ورځ ځینې کارونه چې د دې ورځې د لمانځنې په نامه تر سره کیږي، کاملا د شریعت له اساساتو سره ټکر لري.

ګڼ شمیر نصوص او روایات شته چې د هغو مناسبتونو لمانځنه ردوي چې په نورو ادیانو کې ریښې لري او مسلمان له هغې څخه منع کوي.

### دین او کلتور څه دي؟

هغه ټکی چې باید پوره دقت ورته وشي دا چې، لومړی باید د یوې قاعدې او اصل په توګه د دین او کلتور تر منځ د دوو بیلو پدیدو په توګه توپیر وکړای شي. پدې معنی چې دین په الهي وحی باندې ولاړ دی او د قرآن کریم نصوص او نبوي لارښوونې د دین بنسټ جوړوي او د اسلام ثوابت د الله د وروستني دین په توګه هیڅکله د بدلون وړ ندي او د هیڅ رنګه کمي او زیاتي لپاره ځای نه لري: اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا (المائده۳) یعنې: (نن مې ستاسې



دین درله تکمیل کړ، او خپلې پیرزوینې مې پر تاسې پوره کړې او اسلام مې د دین په توګه درله غوره کړ.) خو بلې خوا ته کلتور، فرهنګ، دود او دستور د بشر په لاس جوړ شوي دي چې د خیر او شر، ښو او بدو... دواړه اړخونه لري او د وخت په تیریدو سره د بدلون وړ دي.

### د دود او کلتور د قبول او رد معیارونه

له دودیزو او فرهنګي مسائلو سره د تعامل په وخت کې باید متوجه اوسو چې هیڅکله له فرهنګ او کلتور څخه د دین په نامه دفاع ونه شي او نه هم له دود او دستور سره مخالفت له دین سره مخالفت وګڼل شي. همدارنګه د کلتوري مسائلو د مخالفت او موافقت په اړه باید پاملرنه وشي چې د شریعت احکام د فرهنګي مسائلو د منلو او یا ردولو لپاره معیار دی او د ټولنې له رواجونو او عرفونو څخه یوازې هغه د منلو وړ دي چې د اسلام د دین له احکامو سره په ټکر کې نه وي. په بل تعبیر هیڅکله هم باید ټول دودیز او کلتوري مسائل له څیړنې پرته په پټو سترګو تائید یا رد نه شي. دا رواجونه باید لومړی د شریعت په تله وتلل شي تر څو هغه چې له اسلام سره ټکر نه لري قبول او نور یې رد شي. د حق پلټنه د هر مسلمان دنده او د شریعت د علماوو مسؤلیت او رسالت دی تر څو د دین حقایق له افراط او تفریط پرته خلکو ته بیان کړي.

### د نوروز په اړه مهم ټکي:

د پورتنیو خبرو پر بنسټ، باید د نوروز په هکله لاندې ټکو ته پام وشي.

۱– د پسرلي د موسم او نوي کال د پیل په خاطر، د خوښۍ هغه احساس چې یوازې طبیعي، عادي او انساني اړخ ولري، هیڅ ستونزه نلري. خو څرنګه چې اسلامي شریعت موږ له اسلام څخه پرته د نورو د دیني شعایرو له لمانځلو څخه منع کړي یو، نو اړینه ده چې د خوښۍ لپاره د داسې ځانګړې ورځې له ټاکلو او همدا راز په هغې کې د مشخصو مراسمو او رواجونو له لمانځلو څخه په هر اړخ کې ځان وساتو.

۲–د نوروز لمانځل په اسلامي شریعت کې هیڅ دیني بنسټ نه لري، ځکه نو هغه ته دیني رنګ ورکول، که په هره بڼه وي، بدعت او په دین کې زیاتونه ده، چې دا زیاتونه مردود او ممنوع کار دی.

۳– د نوي کال او سپرلي په راتګ سره د خوښۍ څرګندول، باید هیڅ کله له شرعي او اعتقادي پولو وانه وړي او نه هم پکې حرام ترسره شي.

۳– سالمه او د اسلامي شریعت په چوکاټ کې د ننه تفریح، د خلکو شرعي او انساني حق دی او هیڅوک په هیڅ عنوان نشی کولای دا مسلم حق ترې واخلي.

**هغه کارونه چې باید ترې ډډه وشي:**

د نوروز په اړه ځینې هغه کړنې چې له اسلامي اعتقاداتو او ارزښتونو سره ټکر لري او باید مسلمان ترې ډډه وکړي په لاندې ډول دي:

۱- د نوروز په ورځ هدیرو ته د خلکو تګ – که نارینه وي او یا ښځینه- او د صدقې او یا نذر په نیت ځانګړي خواړه پخول.

۲- په ځینو زیارتونو کې د دیني عنعنې په نامه (جنډه) پورته کول لکه: د مزار په روضه، د کندز په امام صاحب او د کابل په کارته سخي یا نورو سیمو کې... له بده مرغه باید ووایو چې د افغانستان حکومتونه څه اوس او څه په تېر کې، د شریعت له احکامو څخه د داسې مخالفو اعمالو د مخنیوي پر ځای، تل پخپله د دې بدعتونو متولیان دي او هغه رسماً ترسره کوي چې دا په ټولنه کې د ناوړه دودونو او ناسمو برداشتونو په ترسیخ او کرلو کې مهمه ونډه لري. پر ځای ده چې دولتي مسؤلین، په ځانګړي ډول د اطلاعاتو او کلتور او حج و اوقافو وزارتونه، د علماوو شوراوې او نور... پدې اړه شرعي او علمي څېړنه وکړي او د دې پالیسۍ په اړه چې د ناوړه دود بڼه یې غوره کړې له سره کتنه وکړي.

۳- د قبرونو طواف او د هغوی ښکلول، له مړو څخه د خپلو اړتیاوو د پوره کولو غوښتنه او داسې نور کړه وړه... چې دا ټول له شریعت سره ټکر لري او کله خو آن (العیاذ بالله) د ښکاره شرک تر پولو رسیږي.

۴- د دین له احکامو سره منافي اعمال تر سره کول: لکه: د نامحرمو نارینه وو او ښځینه وو اختلاط، ګډه ناسته پاسته او مجالس.

۵- د سندرو او نڅاوو محفلونه جوړول او د ځینو حرامو کړنو مرتکب کیدل لکه: د شرابو څښل، د نیشه یي توکو کارول او نور...

**د نیالګیو کښینولو جاریه صدقه:**

د نوي کال د پیل اړوند بل د یادونې وړ اړین ټکی دا دی چې، لدې فرصت څخه په ګټې اخیستنې سره، باید ټول د هیواد په سمسورتیا او ښیرازۍ کې پوره هڅه وکړو او د ګران هیواد په کلیو، بانډو او ښارونو کې د نیالګیو کښینول له یوې خوا د شرعي حکم او له بله پلوه د مثبت دود په توګه پیاوړي کړو. ښایي چې سږ کال ټول هیوادوال واړه او زاړه، نر او ښځې... لږ تر لږه یو یو نیالګی کښینوي، پالنه یې وکړي او د وچیدو د مخنیوي له لارې یې ځان ته یوه جاریه صدقه تر شا پریږدي.

**هر څوک، یو نیالګی**

مونږ د خپلې دیني وجیبې او اسلامي رسالت پر بنسټ له ټولو هیوادوالو هیله کوو چې سږ کال په ټول هیواد کې د **(هر څوک، یو نیالګی)** شعار



په پورته کولو او د هغه په عملي کولو سره د خپل هیواد په ښیرازۍ کې ونډه واخلي. د یادونې وړ ده چې نیالګي کښینول د رسول الله ﷺ د احادیثو له مخې جاریه صدقه ده چې اجر یې زیات او دایمي دی.

**نوی کال، د نفس د محاسبې لپاره غوره فرصت**

بې له شکه چې د نوي کال شپې ورځې او د سپرلي موسم د نفس د محاسبې لپاره غوره فرصت دی تر څو د تیر کال د کارونو په ارزونې سره، په پیاوړې اراده او متین هوډ، د ژوند د هڅو د نوې پاڼې په پرانیستلو او په معنوي او مادي اړخ کې د خپل شخصیت د پیاوړتیا لپاره رغنده ګامونه پورته کړای شي... د ژوند له تیرو شپو ورځو پند واخیستل شي او له الله سره هوډ وشي چې د ژوند پاتې فرصت په نیکو کارونو، د الله په اطاعت او د مخلوق په خدمت کې تیر کړای شي او لدې لنډ ژوند څخه د آخرت د اوږده سفر لپاره توښه برابره شي.

**ای ربه! نور مو سپرلي په وینو مه رنګوه!**

درنو وروڼو او خویندو! څومره به ښه وي چې ټول د الله تعالی دربار ته د دعا او زاریو لاس پورته کړو او له سپیڅلي ذات څخه یې وغواړو تر څو مو نور سپرلي د هیوادوالو په وینو او اوښکو رنګین نه وي. راځئ کریم خدای ته دعا وکړو چې زموږ کړیدلی ولس د خپلواکۍ له ریښتیني سپرلي او د الله د نظام په سیوري کې له ډاډمن ژوند څخه برخمن کړي.

**بې له شکه چې الله دعا قبلونکی دی**

## د اصلاح پیغام لړۍ

- د اصلاح پیغام د اسلامي دعوت د خپراوي په موخه په هرو پنځلسو ورځو کې په پښتو او دري ژبو چاپیدونکې لړۍ ده چې وړیا ویشل کیږي.
- دا پیغام بیلابیل دیني او ټولنیز موضوعات د ارزښت په انډول تر پوښښ لاندې راولي او د اسلام په رڼا کې یې د حل لارې وړاندې کوي.
- د اصلاح پیغام ۱۵ مه ګڼه په ۵۰۰۰۰ تیراژ چاپ شوه.
- **د ویش بڼه:** د اصلاح پیغام غړي د خپل وس په کچه پیغامونه د پیسو په مقابل کې تر لاسه کوي او بیا یې په وړیا توګه ویشي چې دا د الله په لار کې د ایثار عملي تمرین دی، اوس مهال پیغام ۲۰۰ دعوتګر غړي لري.
- دا پیغام په پوهنتونونو،ښوونځیو، کورسونو، جوماتونو، بازارونو... کې ویشل کیږي او همدا راز د ایمیل له لارې ۳۰۰۰ هیوادوالو ته رسیږي.
- **ستاسې ونډه:** هیله ده تاسې هم د خیر پدې لړۍ کې له موږ سره یوځای شئ.
- د دغې لړۍ د لا بریا په موخه خپل نظریات له موږ سره شریک کړئ.

**دا پیغام آیات او احادیث لري، هیله ده په مناسب ځای کې یې وساتئ**





جمعیت اصلاح افغانستان

د ځوانانو څانګه

**که قیامت راغی او پدې حال کې ستاسې کوم یوه په لاس کې نیالګی وو، نو که یې فرصت درلود، ودې یې کري، ځکه هغه ته اجر ورکول کیږي.**(حدیث- عمده القاري)

# سپرلی بیا پر وطن راغی

## د نوي کال پیل او نوروز ته کتنه

**د اړیکو لپاره**

د انټرنټ په پاڼو: اصلاح آنلاین وېپاڼه: www.eslahonline.net

د هوا په څپو: اصلاح غږ راډیو : FM ۱۰۴.۳

بریښنالیک: Payamislah@gmail.com

د موبایل شمېره: ۰۷۹۴۶۶۸۸۲۶